زه ګورم چې ستاسو خوبونه د وروستيو اوو شپو په اړه سره موافق شوي دي، نو څوک چې د قدر شپه لټوي، نو په وروستيو اوو شپو کې دې ولټوي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځينو صحابه کرامو ته د قدر شپه په وروستيو اوو شپو کې په خوب کې وښودل شوه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «زه ګورم چې ستاسو خوبونه د وروستيو اوو شپو په اړه سره موافق شوي دي، نو څوک چې د قدر شپه لټوي، نو په وروستيو اوو شپو کې دې ولټوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

د پېغمبر صلى الله عليه وسلم له صحابه کرامو څخه ځينو سړيو خوب وليد چې د قدر شپه د رمضان د مياشتې په وروستيو اوو شپو کې يوه ده. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه ګورم چې ستاسو خوبونه د رمضان د وروستيو اوو شپو په اړه سره يو شی دي، نو څوک چې د قدر شپې پسې ګرځي، او غواړي چې پيدا يې کړي، نو د موندلو پسې دې په زيات عبادت او نېکو عملونو سره کوښښ وکړي، او تمه شته چې دا شپه په همدې وروستيو اوو شپو کې وي، او دا وروستۍ اووه شپې داسې پيلېږي چې: کـه چېرې رمضـان دېـرش ورځې وي، نـو دا شپې د څلورويشتمې شپې نه پيلېږي، او که چېرې مياشت نهه ويشت ورځې وي، نو له درويشتمې شپې څخه پيلېږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4545